بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## د شکر ناروغۍ نړیواله ورځ په رازي لوړو زده کړو مؤسسه کې ولمانځل شو.




نن شنبه د ۲٦/۰۸/۱٤۰۳ نیټه د طبي تکنالوژي پوهنځی لخوا د شکر ناروغۍ نړیواله ورځ د رازي لوړو زده کړو مؤسسې په غونډو تالار کې ولمانځل شو. دا اړین او علمي سمینار د شکر نړیواله ورځ په مناسبت ترتیب او د طبي تکنالوژۍ پوهنځی رئیس قدرمن داکتر میهن "جمیل" او د یادې پوهنځی علمي کادر قدرمن استاد سیداکرام پیاوړي لخوا وړاندې شو.




په یاد سمینار کې د رازي لوړو زده کړو مؤسسې د علمي-تدریسي چارو مرستیال، اداري او مالي مرستیال، د یادې پوهنځي مرستیال، اداري کارکوونکي، ښوونکي او لسګونو تنه زده کړیالان برخه اخیستې وه. استاد پیاوړي د شکر ناروغۍ اړوند

د خلکو د پوهاوي کچه، د دې ناروغۍ د مخنيوي لارې چارې، تشخيص او درملنې په اړه هر اړخيز بحث وکړ.




د سمينار په دوام کې داکتر ميهن "جميل" د طبي تکنالوژي پوهنځی رئيس د يادې موضوع په هکله د عمومي معلومات ترڅنګ د ګډونوالو پوښتنو ته ځواب ورکړ او په پای کې د يادې مؤسسې د علمي-تدريسي چارو مرستيال قدرمن شير احمد "شمس الوطن" د اړوند موضوع په هکله د اسلام له منظره بحث وکړ او دا سمينار د اختتامي دعا سره پای ته ورسېد.